# دخينو دعوو دمعطلي په اړه داسلامي امارت دمشرتابه حکم

بسم الله الرحمن الرحيم

داچي په اوسنيو حساسو شرايطو کې په کار ده چې علماء کرام او مجاهدين ترټولو زياته توجه جهادي فعاليتونو ته وکړي نو لازمه مو وګڼله چې تر ثاني امره پورې په لاندې نيوه ولونولويې دعوې معطله کړو.

(اول) هغه دعوې چې شريکان يې لس يا دلسو زيات کورونه وي.

(دوهم) هغه دعوې چې په مابين ددوو قومونو يا زياتو پر دښتو او غرو او جنګلاتو وي

(دريم) هغه دعوې دملکيت ددوو قومونو ترمابين چې دزمان طويل څخه په جريان کې وي

(څلورم) هغه دعوې چې پر مواتو مځکو وي په مابين ددوو قريو کښې

(پنځم) هغه دعوې چې په مابين ددوو فريقينو ديوه قوم کې وي، يعني هر طرف ته دقوم ډيرې کسان وي.

(شپږم) هغه دعوې چې په مرعی باندې وي په مابين ددوو قريو کې

(اووم) هغه دعوې دمځکو چې دامارت او دقومو او اشخاصو په مابين کې وي، يعني له ټول امارت سره يې دعوه وي او که يې دامارت په مسئولينو کې له کوم شخص سره دعوه وي نو هغه تر دې حکم نه لاندې کيږي.

(اتم) هغه مواتي چې داقوامو يا اشخاصو پر تنازع وي تصرفات جانبينو يا يوه جانب پکښې کړي وي، يعني سرايونه يا باغونه وغيره يې پکښې اباد کړي وي.

(نهم) هغه مرعی ګاني چې تصرفات پکښې سوي وي يا يې متخاصمين تقسيم غواړي.

(لسم) دظاهرشاه، يا داود، يا درباني، يا دامارت دواکمنی دوخت هغه اسناد چې متخاصمين يې محاکمو ته راوړي او له دغو اسنادو علاوه نور هيڅ ثبوت او شواهد نوي نو يوازې په دغو ذکرشويو اسنادو يې دعوه جريان ته نه لوېږي

داسلامي امارت دمشرتابه لخوا

۱۴۳۴/۴/۲۰هـ.ق

۱۳۹۱/۱۲/۱۲هـ.ش-۲۰۱۳/۳/۲م